# PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

## په افغانستان کې د اروپايي ټولنې په مرسته جوړ شوی د جنايي جرمونو د پلټنې او څېړنې انستيټوټ پرانستل شو.

د اروپايي ټولنې لخوا د دريو ميلونو يورو په پانګه اچونې په افغانستان کې مسلکي او ژمن پوليسو ته د جنايي جرمونو د پلټنې او څيړنې په برخه کې اغېزمنه ښوونه او روزنه برابره کړي.

کابل ۱۷ مارچ ۲۰۱۴

نن په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي او د پلاوې مشر فرانز ميشل ميلبين ،د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت اداري مرستيال لوی پاسوال اکرام الدين ياور او په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت مشرتابه اکه روګه په کابل کې د افغان ملي پوليسو د جنايي جرمونو د پلټني او څيړنې انسټيټوت پرانيست .

په افغانستان کې د جنايي جرمونو د پلټنو او څيړنو انستيټوټ او د افغان ملي پوليسو د لوړو زده کړو انسټيټوټ د اروپايي ټولنې په مرسته جوړ او د ۲۰۱۴ لمريز کال د فبرروئ په مياشت کې د کورنيو چارو وزارت ته وسپارل شو .

د پرانستې په دغه مراسمو کې د اروپايي ټولنې ځانګړې استازې فرانز ميشل ملبين وويل: "دغه روزنيز مرکز به د امنيت په ټينګښت ، د جرمونو د مخنيوي او پلټنې په برخو کي د افغان ملي پوليسو د مشرتابه په جوړښت کي اغيزمن رول ؤلوبوي."

د اروپايي ټولنې ځانګړې استازې فرانز ميشل ملبين د ټولټاکنو په بهير کې د پوليسو رول او اهميت ته په اشارې سره زياته کړه: "د ډيموکراتيکو او مناسبو ټاکنو لپاره امنيت يو لومړيتوب او بسنټ ګڼل کيږي نو له همدې امله دغه بهير د افغان ملي پوليسو خدمتونه د يو ازموينې سره مخ کوي."

د پرانستې د مراسو د خبرو په ترڅ کې ، د کورنيو چارو اداري مرستيال لوی پاسوال اکرام الدين ياور وويل : د جنايي جرمونو د پلټنې او څيړنې دغه انيسټيټوټ د جنايي جرمونو د پلټنی تخنيکونو د ښسټيزو تخصصی روزنيزو پراګرامونو له لاري پياوړي کوي. نوموړی انسټيټوټ ټولې هغه چارې لکه ، تجهيزول ، پرمختګ ، پراختيا ، په لوړه کچه د جنايي فعاليتونو پلټنې او په راتلونکي کې د پلان شوو جرمونو تشخيص څخه ملاتړ او مرسته وکړي. نو له دې امله د کورنيو چارو وزارت د اورپايي ټولنې د پلاوي د دغه سترې مرستې څخه د زړه له کومې مننه کوي.

همدا رنګه په دغه مراسمو کې په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت مشرتابه اکه روګه وويل :"
تر دا دمه د موقته جنايي جرمونو د پلټنې د انسټيټوت څخه ۳۵۰۰ زده کوونکې د يوپول د ښوونکو، د د افغان ملي پوليسو د کشفي اداري، کورنيو چارو وزارت او په پراخه کچه د نورو شريکو سازمانونو لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواکه کميسيون ،د کورنيو ستونزو پر وړاندې د مبارزې ځانګې لخوا روزل شوي او فارغ شوي دي. د جنايي جرمونو د اداري (منجمينټ) دغه نوی رغول شوی پوهنځی د پلټنې او څيړنې د مسلکي (تخصصي) تخنيکونو او همدارنګه د پلټنو او څيړنو ښوونې او روزنې پرمختيايي د پروګرامونو د وړاندې کولو سره سره د يو عصرې چاپيريال څخه برخه منه ده."
"ويلی شو چي اوس د کشف افسران نه يواځي د يو لوړ مقام مرکز لري بلکې د کور په څير يو ځای هم لري. "
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت مشرتابه وويل:" اوس مهال يوپول د خپلو افغان همکارانو سره په ګډه د عدلي طب په تخنيکونو او د جنايی جرمونو د پلټي په تخصصی پروګرمونو غور کوي. زه پوهيږم چې دا مهارتونه

# PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

خورا اړین دي. یواځې او یواځې که د افغان ملي پولیسو د کشف افسران د دې ډاډ او اطمینان ورکړای شي چې هغویی د جنایی جرمونو د پیښي د ځای د څخه اثباتیه مدارک جمع او محکمه ته راوړي نو پرته له شکه مجرمین تعقیب او حتی د عدالت منګولو ته راښکل کیدای شي. اما له بده مرغه اوس مهال مونږ د دې شاهد یو چې د اثباتیه مدارکو د نه شتون له وجې ډیر جنایی جرمونو او د اداري فساد قضیيی له لاسه تللي دي. نو له دي امله د افغان ملي پولیسو د کشف افسرانو لپاره دغه ډول روزنه خورا مهمه ده . "

لاندې اړونده معلومات په انګلیسي، دري او پښتو ژبو موجود دي.

د جنایی جرمونو د اداري (منجمینټ) پوهنځی او ښوونیز رول
د ښووني او روزنې استیټیوټ ، موقته او راتلونکي تسهیلات

د نورو پوښتنو یا مرکو لپاره مهرباني وکړئ له لاندینیو کسانو سره اړیکه ټینګه کړئ:


د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو او مالوماتو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: +۹۳ (۰) ۷۰۰۱۷۳۵۴۸
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

په افغانستان کې د اروپایي اتحادیې د پولیسو ماموریت ویاند:
کرېستیانا بک
ټلیفوني شمېره: +۹۳ (۰) ۷۹۳۹۹۰۴۶۹
برېښنالیک: christiane.buck@eupol-afg.eu